ليکونکی: جان هالتی ونګر(John Haltiwanger).
منبع اود خپريدو نيټه : انفا رميشن کليرنګ هوز«26-11-2017».
ژباړونکی: پوهند وی دوکتور سيد حسا م «مل».
- -----------------------------------------------------------

# د ترومپ پټه جګړه

# Trump's secret war

## په مينځنی ختيځ کي دمتحده ايالاتو پوځي حضور(33) سلنه په تيرو څلورو مياشتو کي زياته شوی دي

## US military presence in Middle East Has grown(33) percent in past four month

اولسمشر **دونا لد ترومپ** په مينځنی ختيځ کي دامريکی د متحده ايالاتو د سرتيرو اود امريکی دملکی کارمندانو کوم چي د امريکی دمتحده ايالاتو ددفاع دوزارت دپاره کارکوي دهغوشميره يې په دی تيروڅلورومیا شتوکي له(40517)څخه تر (54180) نفرو ته لوړکړی دي چې تقريباً (33) سلنه زيا توالی ښيی.

د سرتيروپه دغه پورتنی ذکرشوی شميره کی دهغو سرتيرود لوړکړ شوی شميره چی ا فغا نستا ن ته ليږلی شوی کوم چی **دونا لد ترومپ** د اګست د ميا شتی په دی وروستيو کی دطا لبا نوسره دجګړی دپاره د افغا نستا ن اودسهيلی آسيا د پاره خپل نوی ستراتيژی وړاند کړ شا مل نه دي.

د امريکی د سرتيرودغه لوړکړل شوی ارقام لمړی داکتر**ميکا زينکو(** Micah Zenko) بهرنی سيا ست پوه په ټويټر کي د پنتا ګون د دری ميا شتنی په راپور کی خپورشو، يا په بل عبارت دسرتيرو دغه زياتوالی دچا له سترګو دليدلو څخه پټ پاتی شوی نه دي کوم چي په سيمه کي د متحده ايالاتو ديوځ پراختيا دخبرو د نشتوالی په اړه اند يښنی را پورته کړي بلکه د امريکی دسرتيرو دغه وخت نا وخت زيا تول په منطقه کي يوپيچلی تاريخ لری.

دوروستيوراپوروونو بر بنياد کوم چي دنومبر دمياشتی په (۱۷) تا ريخ کی خپور شوی دلته په مينځنی ختيځ کی دامريکی د متحده ايالاتو د سرتيرو اودهغه هيواد د ملکی کارپوهوکارمندان کوم چی دامريکی ددفاع دوزارت د پاره کارکوی دهغوی دشمير پرتله په دغه لاندنی جدول کی ښودل شوی دی ، چي دستاسو پام

*اوتوجه  نوموړی جد ول ته اړوم  چې په په مقیاسوی بنی سره سرتیری او کارمندان نبودل شوی دي .*

| *هیوادونه* | *تیرا رقام* | *اوسنی ارقام* |
|---|---|---|
| مصر | 392 | 455 |
| اسریل | 28 | 41 |
| لبنان | 99 | 110 |
| سوریه | 1251 | 1723 |
| ترکیه | 1405 | 2265 |
| اردن | 2469 | 2730 |
| عراق | 8173 | 9122 |
| کویت | 14790 | 16592 |
| سعودی عرب | 730 | 850 |
| یمن | 13 | 14 |
| متحده عربی امارات | 1531 | 4240 |
| بحرین | 6541 | 9335 |
| قطر | | 3164 |
| عمان | | 30 |

*تا سي په دغه پورتنی جد ول کی داسی هیواد به ونه وینی چي په هغه کي څه ناڅه په دغه موده دامریکی د سرتیرو اودپرسونل په شمیرکی په زیاتوالي نه وی راغلي .*
*دترومپ اداره په افغانستان کي دامریکی دسرتیرودغه وروستی زیا توالي دطا لبا نو د تیر کال د زیا توسیمو دترلاسه کولو له امله ترسره کړی کوم چې اوس په افغانستان کی دامریکی دسرتیرو مجموع  تر (14000)  تنو ته  رسیږی.*
*مګر دامریکی د سرتیرو د حضور زیاتوالی  د مینځنی ختیځ په هر برخه کي نسبتاً تر رادار لاندی دی :*
*«  دامریکی څخه په د ی  با ندی هیوادونو کي دهغه هیواد  دزیا تو سرتیرو ځای پر ځای کول (د ملکی زیان د زعمولو ) اود « با رک اوباما» له خوا هرچیری  دهوایی بمباریو زیاتوالي په نظرکي نیولو سره کارپوه* ***زینکو*** *دسپینی ماني شنونکي  له نظره دهغه څه سره سم دي  چي* ***ترومپ*** *دامریکی  د جمهوری ریا ست  دکا ند ید  په توګه سره ژمنه کړی وه  هغه د نیوزیک آژانس  ته وویل : زه داسی فکر  کوم چې اوس (جمیس ماتیس دامریکی ددفاع وزیر) اودهغه سره نور  همنظر  لوړ پوړی  نظامیان په دی فکراو اندیښنه کی دی چې په منطقه کي داوږدی مودی پاتی کیدو ته لمړیتوب ورکړی  نو دهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره  دی چې  «جیمس ماتیس»  د داعش دله مینځه وړلو د پاره د دبشپړ ورکید و  (عبارت ) په کا ر وړی اودهغه څخه داسی مطلب تر لاسه کیږی چې دامریکی دفاع وزیر اودهغه سره نور لوړپوړی نظا میا ن*

نظامی لاری ته لمړیتوب ورکوی او داسی وایي چی امریکا کولای شی چی خپل دښمنان هر چیری چي اووسی په نظامی تګل اوبرخورد سره هغوی دړی وړی کولای شي.

**زینکو**دغه سیاسی کا رپوه د امریکی د متحده ایالاتو په دی باندي کی دسرتیرو دوروستنی زیاتوالی په مورد کي په لنډه توګه سره داسی وایي : چی د امریکی د سرتیرو دغه وروستي زیا توالی په نورو هیوادو کی د هغو تولو تیرو لوړ پوړو متقاعد نظا میا نو د نظریا تو اودهغو تمایلا تو ته اړه نیسی کوم چی هغوی هرنړیوال مسله په نظامی لاری سره غواړی چي حل کړي .

جیمس ماتیس دامریکی دفاع وزیر تیره میاشت کی داسي څرګندونه وکړ: مونږ لا له ړاندی هغو سختو جنګی تکتیکونو ته تغیر ورکړی کوم چی داعش نور ونشی کړلی چي په آسانی سره خپل موقیعتونو ته بدلون ورکړی او د عراق څخه په آسا ني سره سوری ته واوړی او همدارنګه زمونږ موخه دا دی چی خارجی جنګیالی کوم چی شمالی افریقا ، اروپا ، امریکا ،آسیا اویا افریقایی هیوادونو ته په تګ راتګ دی دهغوی لاری بند کړو او بړی نږدو چی هغوی په نوموړی هیوادونو کی حالات خړ پړ کړی یا دخپل خلافت لمن پراخه کړي .

په دي وروستیو پیښو کي اسلامی دولت (داعش) له څو مودی څخه راهیسی خپل زیا ترتر ولکی لاندی سیمه دلاسه ورکړ اوپه پرلپسی بڼی د ما تی سره مخا مخ شو کوم چی هغوی په پای کی رقه (Raqqa) چی دخپل خلافت پلازمینه تاکلی وه هغه ښار یی هم دلاسه ورکړچی په عین وخت کی دپنتاګون له خوا په سیمه کي دسرتیرو اودملکی کارمندانو شمیر په تیرو میا شتو کی شاوخوا (1500) نفروته لوړ کړ شو کوم چی دلته یو سوال پیدا کیږي اوهغه دا چي دا دسرتیرو سمد ستی زیا تول دڅه د پا ره ؟

نیوز ویک خپله تبصره په دی مورد کی سپینی ما نی ته ورکړ اما دخپل ځواب یا د تبصری ځوابیه خبره چي په کوم وخت کي خپور شوی وه ونه لید اویا وانورید.

نو له وضع اوحالاتو څخه داسي را معلومیږي چی د امریکی د متحده ایالاتو ځنی کړي او حلقي په سیمه کي دمتحده ایالاتو دسرتیرو اودملکی پرسونل له وروستي د شمیر د زیاتوالی څخه بی خبر دی . په هرصورت دنومبر دمیاشتي په (16) یوه ورځ مخکی له هغه څه چي دامریکی دسرتیرو دشمیر دزیاتوالی خبره په سیمه کي دخلکو د پوها وی دپاره خپور شي- لوی درستیز جنرال **کینت اف مککینزی جونر** (Kenneth .F. Mckenzie Jr) امریکی دسرتیرو دشمیر دزیاتوالی خبره په سوریه او په عراق کی خبریالانو ته په یو خبری کنفرانس کي داسی څرګند کړ او وویل : چي مونږ په سوریه کي پنځه وار تر (503) عملیاتونه تر سره کړی او زمونږ د

سرتیری شمیر په عراق کي (5262) تنه سرتیری دی ، اما دنوی راپور پر بنیاد د امریکی دمتحده ایالاتو د سرتیری شمیر په عراق کی (1720) او په سوریه کي (8392) تنه سرتیری دی .

سپینی ما نی ته **ددونالد ترومپ** په راتګ سره دامریکی دسرتیرو د مړینی کچه په خارجي هیوادونو کي زیات شوی او هم دهغه په بغل کي په هغه نوموړی هیوادونو کی دملکی خلکو دمړینی شمیر هم څو واری زیا ت شوی دي.

دا د شپږو کلونو په مینځ کی لمړنی کا ل دی کوم چي د ا مریکی د سرتیرو دوژل کید و د کچي زیاتوالی په با ند نیو هیواد ونو کی مشخص کیږي[ ( 13) سلنه په کال (2017) ،( 26) سلنه په کال (2016) ،او (28) سلنه په کال (2015)کی ] .

همدارنکه **دونالد ترومپ** په با ند نیو هیوادونو کي د اګست د میا شتی په سرکی دداعش سره په مبارزه او جګړه کی په لوړه کچه سره غیر نظامی خلکو خپل ژوند دلاسه ورکړ کوم چي د(اوباما ) دزمامداری په دوران کي دومره غیرملکی خلک نه وه وژل شوي .

سربیره پردي چي **دونالد ترومپ** دامریکی دمتحده ایالاتواضافی سرتیری افغانستان ته ولیږل نو دهغه په څنګ کي په درامتیک بنی سره په افغانستان کي خبل هوایی بریدونه هم زیاته کړ چي دهمدی هوایی بریدونوپه سرته رسولو سره په کال (2017) داکتوبر د میا شتی تر (31) پوری امریکا یی هوایی ځواکونه په هغه هیواد کي (3554) بمونه غورځولی چي دغه رقم په کا ل (2016) کي چی (1337) بمونه غورځولی وه دری برابره اوتقریباً څلور برابره د(947) بمونوکیږی چی په کا ل (2015) غورځولی وه . ملګرو ملتونو دهمغه کال داکتوبر په میاشت کی پخپل یو ځانګړی خپور شوی راپورکی څرګند کړ چی دملکی تلفاتو شمیر دتیرکا ل په پرتله ( 50) سلنه زیا ته شوی دی چی داپخپله **ددونالد ترومپ** دنوی ستراتیژی پا یلی دي.

**دونالد ترومپ** سربیره دمینځنی ختیځ څخه کوم چي هلته دخپل سرتیرو شمیر زیاته کړنو هغه په سومالیا کی هم دامریکایی سرتیرو شمیردوبرابره کړیعنی **ترومپ** دافریقی په وچه کي په همدی کال دامریکایی دسرتیرو شمیر تر(۵۰۰) تنو سر تیرو ته ورسول – دامریکی سمند ری قوا دهمدی کال دمی په میا شت کی کله چی پر الشبا ب نومی ګروپ باندی حمله وکړ نودهمدی حملی په ترځ کی دهغه یو سرتیری خپل ژوند دلاسه ورکړ اودا داول ځل دپاره دی کوم چي امریکایانو په سومالیا کي وروسته د کال (۱۹۹۳) د سقوط شاهین دعملیا تو ترنوم لاندی خپل (۱۸) سرتیری دلاسه ورکړی وه .

درارسید لی نوی راپورونو به نظر کی نیولو سره په دی وروستیو وختونو کي یعنی دسه شنبی په ورځ په سومالیا کي **ددونالد ترومپ** په هدایت سره امریکا یا نو

*دیوېرغل په سرته رسولوسره(۱۰۰) نظا مي سومالیا یې جنګیا لی له پښو وغورځول او له مینځه یې ویوړل او همدارنګه **دونالډ ټرومپ** دهدایت سره سم هلته په سومالیا کې پر داعش باندې هوایي بریدونه زیاته شوي دي.*

*لکه همغسې چي سپیني ما نی ته **دونالډترومپ** پخپل راتګ سره دامریکاد نظا میا نو نظامي عملیاتونه په څوجبهوکې زیا ته کړی د لته دامریکي په د ننه کې د خلکو سره یولړسوالونه هم را پیدا شوی او هغه داچي دبا ند نیو هیوادونوخلکو مونږ امریکا یا نو ته څه وایي اویازمونږ په اړه څه پوښتني لري ؟شاوخوا ډیرګونګسي را پارولی دی .*

*اوس سمد ستي دلته د امریکې په کنګرس کې د کنګره غړی د خپل ملګرو څخه مرسته غواړي او هغه دا چي د **ټرومپ** دورستي پریکړي د پراختیا او د هغي څخه تر لاسه شوی تحولاتو با ندی خپل پام واوړوی او هغه داچي **ټرومپ** ته دهغه دکړونو حساب ورکونه په نظر کي وسا تي .*

*د متحده ایالاتو دپوځیا نواودهغه دجنګي قراردادیانو دچټک زیاتوالي اودهغوی ځای پر ځای کول اودغیر قانوني جګړي مخکي وړل ، دامریکي مبارزه په مینځني ختیځ کې به دراتلونکي دپاره امنیت ته مهم خطرات به رامینځته کړي نو دهمدي دلایلو به نظر کي نیولو سره امریکایان حق لري چي په دی ځا ن پوه کړی چي **ترومپ** څه پروګرام لري اویا څه غواړي ؟ دهغه اداري پلانونه یې څه دي؟ زمونږ دنده څه دي ؟اوددی اوږدی معضلي څخه دوتلو لاره کوم دي ؟ کنګرس باید هرومرو ددونالد **ترومپ** په ماموریت باندی ځان پوه کړي اودهغه څخه په دی برخه کي لازم سوالونه وکړی داهغه سوالونه دی چي په کنګره کې د امریکي دخا رجي روابطو په کمیته کي سنا تور **چریس مورفی کونیک تیکیت** (Chris Murohy Connecticut) نیوزویک ته وړاندی کړ .*

------------------------------ **په درنا وی «2017-11-27»**